# د خوشحال بابا او درویزه بابا تر مینځ اختلاف ته یوه کتنه

A critical study of differences between Khushal Khan Khattak and Akhund Darweza

یوسف جذاب

**Abstract:** *Khushal Khattak and Akhund Darweza are of unique status in Pashto literary world. Poetry and prose work of Khushal Baba have acquired the position of classics in Pashto literature. Albeit Akhund Darweza is the contemporary of Peer Roshan (Bayazeed Ansari), yet Makhzan-ul-Islam has been influential and relevant in the Pashtoon societies for centuries. Khushal Khan Khattak has condemned and criticised sternly some of the believes and dogmas of Akhund Darweza, as a critic in his well reputed travelogue Swat Nama. The present study introduces some new aspects, especially the socio-religious background of the difference of opinions of the two great scholars. It also critically examines the wirtings of the researchers who have brought this scholistic discourse in the lime light.*

خوشحال بابا د "عفو" په کال یعني 1086هـ (1) کښې د مغلو په ضد لښکر را غونډولو په غرض سوات ته لاړو خو چې هلته ورسېدو نو د درویزه بابا ځۀ خیالات چې د هغه ذکر به مخکښې وشي. ورته د خپلې عقیدې، مسلك او سیاسي نکتهٔ نظر سره متصادم ښکاره شول. خوشحال بابا یو پوهـ او زیرك انسان ؤ. دوئ ته معلومه وه چې د هر فکر په شا یوه اساسي او بنیادي نظریه وي. که چرته دا نظریه ونړولی شي نو د فکر او تخیل دنګه ماڼۍ په خپله رانسکوریږي. ځکه خو بابا وغوښتل چې دا نظریه ونړوي. په دې سلسله کښې دوئ د درویزه بابا په حقله دا لاندینی چارج شیټ وړاندې کړو:

"یو کتاب دی درویزه سره جوړ کړی
د سوات خلق ئې له کل عالم موړ کړی
نامعقول، مجهول بیان په کښې بې ځایه
په کښې بد د سید وایه یزید ستایه

چـــې لعنـــت بـــه پـــه یزیـــد بانـــدې وائینـــه
چـــې پـــه رفـــض کښـــې غـــره بـــې حـــده دینـــه
د حســـېن پـــه مـــرګ یزیـــد کلـــه راضـــي ؤ
بلکـــــــې دی د دهٔ د خـــــــون متقاضـــــــي ؤ
امراګـــان ئـــې د حســـېن پـــه مـــرګ قصـــاص کـــړل
زهٔ حیـــران شـــوم د یزیـــد پـــه هســـې خـــاص کـــړل
بیـــا ئـــې دا وو پـــه کښـــې کښـــلي دهٔ لـــه دینـــه
چـــې پـــه آل بـــه رافضـــي درود وائینـــه" (2)

معلـومیږي داسـې چـې کلـه خوشـحال بابـا پـه سـوات کښـې د اورنګزیـب عـالمګیر خـلاف پـه ټولولـو بریـد کـړی دی نـو د اخونـد درویـزه پلـوي میـاں نـور د دوئ مخالفـت پـه دې بنیـاد کـړی دی چـې دا د اولـو الامـر (ملـك یـا امیـر) خـلاف خـروج یـا بغـاوت دی. د اهـل سنت والجماعـت عقیـده ده چـې د الله ﷻ او د رسـول ﷺ نـه پـس اطاعـت د اولـو الامـر لازم دی ځکـه چـې دا قسـم خیـالات پـه مخـزن الاسـلام کښـې موجـود دي. اخونـد درویـزه بابـا د عقائدو په باب کښې هم په دې کتاب کښې لیکي:

"هـم ئـې پـس لـه پـاك رسـول صـلی الله علیـه والـه وسـلم بادشـاهي وه پـه دیـرش کالـه .... پـس لـه دوئ (څلور خلیفـه ګـان) هـر چـې ناسـت پـه حکومـت وي یـا ملـك یـا امـراء بـه دوئ بلـل شـي. اوس لازم پـه مسـلمانو چـې امیـر دې مسلمان سړې پیدا کا چې احکام د شریعت پرې قوي کیږي"(3)

خوشـحال بابـا بـه پـه ځـواب کښـې د عـالمګیر کمزوریـو تـه ګوتـه نیـولې وي او بیـا بـه میـاں نـور ورتـه وئیلـي وي چـې د خلیفـه یـا امیـر یـا ملـك دپـاره ضـروري نـهٔ ده چـې هغـه دې فرښـته وي او هـر قسـم ګنـاه نـه دې پـاك وي. دلتـه به د میاں نور په مخکښې د مخزن دا قسم خیالات موجود وي.

"دا هـم شـرط نـهٔ دی چـې بادشـاه دې لـه جملـه ګنـاه پـاك وي یـا افضـل پـه زمانـه کښـې دې واړو خلقـو وي. ولـې دا هـومره ئـې شـرط دی چـې لائـق دې وي د حکـم. هـر چـې پـه ډېـره مضـبوطي او سیاسـت ئـې پـه طریـق د شـرع کیـږي. د اسـلام واړه حدونـه دې نګـاه کـا کـه پـه چـا څـهٔ زور زیـاتی وي تپـوس

دې تـرې نـه وکـا. او کـا دی چـرې ګنـاه یـا زور زیـاتی کـا، پـه فرمـان د اهـل حـق د دۀ لـه لاس لـه بادشـاهۍ لـه حکومتـه بـه نـۀ خیـژي. امـام کـه نېـك کـردار کـه بدکردار وي. تۀ په دواړو پسې مونځ کړه هم د دواړو جنازه کړه"(4)

او اغلبـه ده چـې خوشـحال بابـا بـه د سـید الشـهداء امیـر حسـېن رضي الله عنه حوالـه ورکـړې وي. چـې کـه داسـې ده نـو د دې شـهید څـۀ حکـم دی؟. نـو میـاں نـور بـه د مخـزن عبـارت مطـابق دا خبـره کـړې وي چـې د حسـېن رضي الله عنه پـه مـرګ امیـر یزیـد راضـي نـۀ ؤ او قصـاص کښـې ئـې دوولـس ملزمـان قتـل کـړي وو. نو په یزید لعنت جائز نۀ دی. د مخزن عبارت ولولئ.

"اوس دې هیڅـوك پـه یزیـد لعنـت نـۀ وائـي. مګـر لـه ګمراهـانو چـې پـه رفـض کښـې غـره بـې حـده دینـه. دوئ وائـي دی د حسـېن رضي الله عنه پـه مـرګ راضـي شـۀ. دی کـافر شـۀ، دا خبـره بـې هـوده ده، ولـې صـحیح خبـره دا ده چـې یزیـد اهـل قبلـه ؤ. مصـلي ؤ. دوولـس امـرا ئـې پـه قصـاص کـړۀ. د امیـر حسـېن رض پـه مرګ دی ناراضي ؤ"(5)

د میـاں نـور او اخونـد درویـزه موقـف د بابـا نکتـۀ نظـر سـره سـمی نـۀ خوړلـو او د هغـې تـولې مقـدمې سـره متصـادم ؤ. چـې بابـا ئـې پلـوي ؤ یعنـي بابـا د اورنګزیـب خـلاف پـه هغـو بنیـادونو پاڅېـدل غوښـتل چـې پـه کومـو بنیـادونو امیـر حسـېن رضي الله عنه د یزیـد خـلاف خـروج کـړی ؤ. د حسـېن رض واقعـه د خوشـحال بابـا دپـاره یـوه عامـه تـاریخي او اسـلامي واقعـه نـۀ وه بلکـې دې حـادثې د دوئ د عسـکري ائیـډیالوجي دپـاره د یـوې بامعنـا اسـتعارې حېثیـت اختیـار کـړی ؤ چـې دوئ تـرې د اورنګزیـب خـلاف خپـل مشـن تـه تقویـت او اسـتدلال اخسـتلو. خوشـحال بابـا دا اسـتدلال لرلـو چـې اورنګزیـب لکـه د یزیـد پـه خپلـو انفـرادي او اجتمـاعي اعمـالو ثابتـه کـړې ده چـې د دوئ اسـتعمار نـور خپـل جـواز وبـائیلي ځکـه نـو دا وئیـل چـې بابـا پـه سـوات کښـې پـه غیـر متعلقـه مـذهبي بحثونـو کښـې خپـل هـدف تـه تـاوان ورسـولو. د هغـه وخـت د بابـا ذهنـي پـس منظـر او پـېش منظـر او د حـالاتو لـه سیـاق او سبـاق نـه په سترګې پټولو دلالت کوي. لکه چې ښاغلی همېش خلیل لیکي:

"سوات ته د رسېدو نه پس مصلحت خو دا ؤ چې خوشحال خان د خپل مقصد له مخه غیر ضروري بلکې تر یوۀ حده ځۀ نورې ضروري خبرې ئې هم په نظر کښې نۀ وی راوړې او د خپل ستر مقصد دپاره د عقیدو په بحثونو، انتقادي مباحثو او بې ځایه نکته چینو کښې د ښتو په ځائ خپله ټوله توجه او کوششونه ئې د خپل مشن د تکمیل په لړ کښې صرف کړي وی. او نور هر قسم خبرو ته ئې هډو ځۀ اهمیت نۀ وی ورکړی.... کاش دغه وخت هغۀ د جذباتو په ځائ د اعتدال او تدبر نه کار اخستی وی او کم از کم د مذهبي او عقائدو له بحثونو ئې ځان ژغورلی وی"(6)

ښاغلي پرېشان خټك دې بحثونو ته بې ځایه خو نۀ دي وئیلي مګر یو نوی رخ ضرور ورکوي. د دوئ په عقیده د اهل بیتو محبت او عقیدت بابا دې ته مجبوره کړو چې ذاتي مفاد شا ته وغورزوي. او د اهل بیتو قرباني په سینه پورې ټینګې ونیسي"(7)

مګر خوشحال بابا یو نابغه او جینئس انسان ؤ هغۀ ته د قوم یا ملت په تشکیل کښې د مسلمانانو په حواله عموماً او د پښتنو په حواله خصوصاً د مذهب د عنصر اهمیت درسته اندازه وه. د پښتون نېشنلزم په تصور کښې دوئ د دې مهم عنصر نه فائده اوچتول غوښتل. د دوئ نه مخکښې د پښتنو حکومتونه ضرور تېر شوي وو او بابا د هغو ارمان هم کړی دی. داسې چې د اکبر پالیسي د خپل سلطنت د حدودو سره سمه وي او د بابا د خپلې پښتني خاورې سره. بله دا چې دا د اورنګزېب د مذهبي پالیسۍ رد عمل وي. ذکر شوی حکمران د سهېلي هندوستان د ګولکنډه او بېجاپور ریاستونه چې هلته شیعه ګان بادشاهان وو. لاندې کړي وو. نو په دې تصور کښې هر پښتون، چې د هغۀ تعلق د کوم مسلك او فرقې سره ولې نۀ وي. دپاره ځائ ځائېګی ؤ. د پښتون نېشنلزم ابعاد ثلاثه ژبه، نسل او مذهب ؤ. د ژبې او نسل په حواله بابا دپاره ځۀ مسئله نۀ وه البته د مذهب په صورت کښې ورته د شیعه او سني مسئله ضرور پېښه وه ځکه چې پښتانۀ هم سنیان وو او هم شیعه ګان. د دې حل دوئ داسې ښکاري. دا راوباسلو چې په خپل فکر کښې ئې د دواړو فرقو اساسي

تعلیمات، خصوصاً د سیاست او سیادت او مذهب په حواله راغونډه کړل. په یوه نظم کښې د حضورﷺ د صفت نه پس وائي:

"سرګشته د ضلالت په تهه کښې ګرځي
چې دښنه ئې د خسرانو یا د زوم دی
هر اصحاب ئې لکه ستورې د هدٰی دی
د هدٰی د لاره ښیون کاندي نجوم دی
د امت ئې برګزین دی اثنا عشر
په بزرګۍ کښې د همه جهان مخدوم دی
د خوشحال ختک دې حشر له هغو شي
چې دستدار د پنج تن پاك چارده معصوم دی" (8)

په دې وجه د عزتمند اولف کېرو دوئ ته د ارتهوډوکس نۀ وئیل هم ځائ نۀ لري"(9).

تر څۀ حده ډاکټر راج ولي شاه ختك صاحب همدغه رائې قبلوي مګر د بابا شیعیت او سنیت ته مختلف فلسفیانه نومونه ورکوي لکه چې لیکي:

"سره د دې چې خوشحال بابا پوخ مذهبي رنګ لري او د خپلې کلکې عقیدې اظهار ئې ځائ په ځائ کړې دی بیا هم هغه Latitudinarianist یعنې وسیع المشرب دی او دغه وجه ده چې په کلام کښې ئې ځائ په ځائ فلسفیانه افکار ډېر جوت دي...... خوشحال بابا اګرچې ځان ته خالص سني مذهبه وائي ولې بیا هم اکثر ځایه د حضرت علی کرم الله وجه فضیلت ته اشاره کوي ...... دلته که مونږ وګورو نو په یو لحاظ خوشحال بابا اصطفائي (Ecleticist) دی چې په سنیتوب کښې هم مختلف مذهبي اصول را یو ځائ کول غواړي"(10).

مګر سوال دا پورته کېږي چې د بابا دا اصطفائیت فقط تر سنیتوب او شیعیت ولې محدود دی؟. نو د دې ځواب دا دی چې تر دې وخته په پښتنو کښې همدغه دوه فرقې موجودې وې. د روښانیانو "فساد" هم ختم شوی وُ، ګني نو وجودي تصوف ته به ئې هم معقوله برخه ورکړې

وي. (او څۀ ئې د روایت لـه مخې نظم کـړې هـم ده) مګـر پـه مجمـوعي حوالـه او همدغــه د هغــه وخــت تقاضــا وه. د بابــا خیــالات اتیــا فیصــده عالمانــه او شــل فیصــده صــوفیانه دي. نــو دلتــه بایــد یادونــه وکــړی شــي چــې پــه دې صــوفیانه شــاعرۍ کښــې د فارســي شــاعرۍ د تصــوف د روایــت کــړۀ وړۀ هــم شــامل دي. لکــه چــې مخکښــې اشــاره ورتــه وشــوه ګنــې نــو دا څرګنــده ده چــې بابــا باضــابطه صــوفي نــۀ دی. نــو مقصــد دا دی چــې خوشــحال بابــا د اخونــد درویــزه مخالفــت پــه مــذهبي بنیــادونو لکــه څنګــه چــې ښــکاري نــۀ ؤ کــړی بلکــې د دې پــه شــا نــور عوامــل وو چــې د سیاســت ســره ئــې جــوړې او رېښــې لګــي چــې پــه اهــدافو کښــې ئــې هــم د پښــتنو اجتمــاعي نظــم او هیئــت قیــام شــامل ؤ او هــم د دوئ ســرداري او بادشــاهي. او دا څــۀ بــده خبــره هــم نــۀ وه لکــه څنګــه چــې د هغــه وخــت پالېســي د "کــل ګټنــه ده د تــورې" وه نــو ســرداري او بادشــاهي هــم د هغــه وخــت مروجــه نظامونــه وو. مګــر میــاں نــور د خوشــحال بابــا او د پیــر بابــا او اخونــد درویــزه د پیــر روښــان مخالفــت د خوشــحال پــه عکــس، پــه سیاســي بنیــادونو نــۀ ؤ لکــه څنګــه چــې زمــونږ مؤرخینــو او محققینــو لیکلــي دي بلکــې د دې اســاس پــه مــذهب ولاړ ؤ. دا مســئله زمــونږ دریــو مشــران، دوســت محمــد خــان کامــل، عبدالقــدوس قاسمي او تقـویم الحـق کاکاخېـل حـل کـولی شـوه. مګـر افسـوس تـرې پـاتې شـوه. د اخونـد درویـزه او پیـر روښـان تـر مینځـه د مخالفـت نوعیـت پـه حقلـه دوست محمد خان کامل د تاریخ مرصع په حاشیو کښې لیکي:

"لکــه د بایزیــد ارمړ د هغــۀ د حریــف اخونــد درویــزه شخصــیت هــم د بحــث موضــوع او متنازعــه فیــه دی. هغــه کســان چــې قــوم او وطــن دوســتي ئــې جنــون او وطــن پرســتۍ تــه رســېدلې ده. د بایزیــد ارمــړ د مغلــو ســره د مخالفـت پـه سـبب د هغـۀ د عقیـدې د فسـاد، خرافـاتو او هغـې مـذهبي فرقـې تـه چـې پـه پښـتنو کښـې ئـې ګـډه کـړې وه، سـترګې پټـوي او وائـي چـې اخونـد درویـزه چـې د بایزیـد مخالفـت کولـو نـو د مغلـو پـه لمسـون او مرسـته ئـې کولـو خـو سـوال دا دی چـې تـر څـو د دواړو د مـذهبي حېثیـت تعلـق دی نـو خوشـحال بابـا لکـه چـې مـونږ وړومبـی وضـاحت کـړی دی. د چـا پـه وینـا

اخوند درويزه ايمان ښيونکی او بايزيد ارمړ ته د کفر تلقين کوونکی وئيلی دی. د خپل نفس په حقله وائي:

"زۀ د درويزه غوندې ايمان ښيم و دۀ ته
دی د پير روښان غوندې د کفر کا تلقين" (11)

د کامل صاحب د دې اقتباس نه جوتيږي چې دوئ دا الزام سم نۀ گڼي مگر لږ وروستو د تاريخ مرصع د دې خبر نه چې درويزه د جهانگير منصبدار سره مېلمه ؤ. روټۍ ئې زياته وخوړه او ترې مړ شو. اثر ضرور اخلي او ليکي:

"..... افضل خان د تاريخ مرصع مؤلف چې د هغۀ (اخوند درويزه) د وفات د سبب په باره کښې کوم انکشاف کړی دی. له هغه دا قياس او شبه خو ضرور کيږي چې د مغل امپراتورۍ عهده دارانو د اخوند درويزه سادگي يا کمزوري معلومه کړې وي او هغه ئې په دا اماده کړی ؤ چې هغوئ سره ناستې پاستې کوي او دعوتونه ئې قبلوي. او خوري ئې او دغسې دې مغل د هغۀ د بايزيد سره مخالفت نه سياسي سود او فائده اخلي. کوم فساد او فتنه چې اکبر د دين الٰهي (معاذ الله) په شکل کښې پورته کړې وه هغه د بايزيد ارمړ د فتنه پردازۍ او شر انگېزۍ نه په هيڅ رنگ کمه نۀ وه. د جهانگير په عهد کښې ئې اثرات تر ډېره حده پاتې او ښکاره وو...... که اخوند درويزه اکبر باچا هر څو د حضرت خير البشرﷺ له پاکه دينه برگشته او روگردانه گڼلو. د اکبر د کفر او الحاد او د هغۀ د زوئ په عهد کښې ئې د هغو اثراتو د وجود برخلاف د هغه جوش او خروش عشر عشير هم ښکاره نۀ کړو. کوم ئې چې د بايزيد ارمړ او د هغۀ د قماش نورو پيرانو وغېره ؤ بر خلاف کولو بلکې د جهانگير صوبه دار سره ئې په يوۀ دسترخوان ډوډۍ خوړله"(12).

کامل صاحب په خپل ړومبني اقتباس کښې په حقه اخوند درويزه ننگيالی دی او دا قسم خبرې ئې د جنون تر حده رسېدلې قوم پرستۍ او وطن پرستۍ نتيجه گڼلې ده ځکه چې د اخوند درويزه تر مخې د قران

احکامات، د یوۀ درجن نه زیات د پېغمبر حدیثونه، د صحابه کرامو تعامل او د اهل سنت والجماعت د عالمانو یو اوږد تاریخ پروت ؤ. چې همېشه راسې ئې د اولو الامر یا د وخت د بادشاه که هغه به د جرمونو ارتکاب ولې نۀ ؤ کړی. د حکومت رټ قائم ساتلو دپاره ئې هم له قلمه او هم له تقریره کار اخستی ؤ چې د مسلمانانو اجتماعي هیئت له انتشاره بچ شي او کم نه کم نقصان وشي. د اسلامي سلطنت هر سترګور د وخت حکمران سره تعلق هم نۀ ساتلی دی. د دوئ دا تعلق د هر قسم ذاتي مفاداتو نه بالاتر ؤ. دوئ به کوشش کولو چې په بدو حالاتو کښې هم د امر بالمعروف او نهي عن المنکر فریضه ترسره کړي نو د دې مقدسې فریضې تحفیف دې داسې ولې وکړلی شي چې د ډوډۍ خوړلو نوم دې وګټې؟ ما چې مخکښې د کومو دریو پوهانو نومونه اخستي وو نو هغوئ کم از کم په دې صورت حال خبر وو. د کامل صاحب دوېم اقتباس کښې د "ډوډۍ خوړلو" پېغور موجود دی. خو معلومېږي داسې چې کامل صاحب د تاریخ مرصع د مؤلف په هره حواله ساتل غواړي او دا نۀ خبره هم ده ځکه چې کامل صاحب د اسلامي مطالعې سره سره یو ادیب هم ؤ. هغوئ که هر څومره دیني او مذهبي حمیت او غیرت لرلو مګر دا ئې تعصب کښې نۀ وو بدل کړي. دې نه علاوه دوئ د وکالت پېشې سره هم منسلك وو. او د یوې مسئلې ما له او ما علیه (Pros and Cons) هرڅۀ د بحث په دائره کښې راوستل غواړي چې د مسئلې هغه ګوشې هم جوتې شي چې فی الحال د معترض په ذهن کښې دي او دا رنګ د دوئ د رایو سره اختلاف کول ډېر ګران شي. نو دلته هم د ادبي او علمي تقاضو ساتلو په غرض ئې د اخوند دروېزه د پېښور د صوبه دار مړی خوړلو ته ګوته نیولې ده. اخوند دروېزه د وفات سبب کوم چې تاریخ مرصع ښودلی دی ئې وئیلي دي چې مونږ په یقین سره خو نه البته "قیاس او شبه" کولی شو چې د اخوند او مغلو په مینځ کښې تعلقات وو. مګر نۀ پوهېږم چې دوئ په کومه حواله اخوند ته ساده یا کمزوری وئیلي دي؟. په خپله په مخزن

کښې ډېر ځایه د کم خوراك د خوړلو تلقین شوی دی. اخر په کوم دلیل دې د مخزن خاوند د "ماتقولون مالاتفعلون" مجرم وښودلی شي؟.

کامل صاحب بله خبره دا کړې ده چې اخوند دروېزه چې څرنګ د پیر روښان خلاف سرګرم ؤ د اکبر د دین الٰهي خلاف ئې دومره جوش و خروش نهٔ دی ښکاره کړی نو د دې ځواب دا دی چې اخوند په پښتنو کښې اوسېدو د هغهٔ اولني مخاطبین هم د شرعي او هم د عقل له رویه هم دغه پښتانهٔ وو. دا رنګ نوري برخې د دې نه پس د دوئ ذمه واري وه. دویمه دا چې دوئ اکبر ته د اسلام نه "برګشته او روګردانه" وئیلي دي. د اکبر په معاصرینو کښې فقط دوو کسانو یعنې عبدالقادر بدایوني او یوهٔ عیسائي پادري دوئ د اسلام نه د انحراف په تور داغلی ؤ مګر د مجدد الف ثاني د الزاماتو نوعیت هم جدا ؤ هغوئ په اکبر د "الحاد" الزام نهٔ ؤ لګولی"(13)

په دې سلسله کښې اخوند دروېزه درېم کس دی چې په دې قطار کښې ئې د درېدلو اعزاز حاصل کړی دی. دا ډېر متنازعه بحث دی د دېوبند د مکتبِ فکر یو غټ عالم مولانا حسېن احمد مدني لیکي:

"که د دهٔ (اکبر) غوندې څو نور بادشاهان هم تېر شوي وی یا کم از کم د دوئ پالیسۍ دوام موندلی وې نو لازماً به د برهمنانو دا چال (چې د نفرت فضا جوړه کړي او دا رنګ خلق د اسلام نه بدګمانه کړي) د فن شوی ؤ او د اسلام غوښتونکي به نن په هندوستان کښې په اکثریت کښې وو. اکبر فقط په سړیو قبضه نهٔ وه کړې بلکې عام هندو ذهنیت او د منافرت جرړې او ولې ئې سورۍ کړې وې. لېکن یو خوا کبر په خپله د دین په وجود یعنې اسلام کښې څهٔ؟ غلطۍ وکړې چې د مسلمانانو ډله ترې بدګمانه شوه. اګرکه په دې بدګمانه فرقه کښې زیات کسان غافله او ناپوهه وو بل خوا چې کله برهمنانو ته په خپلو مقصدونو کښې ناکامي وشوه نو غصه ئې لازیاته شوه"(14)

کامل صاحب چې د اخوند دروېزه بابا دپاره د معیار کومه تله لګه کړې ده نو په دې معیار په خپله خوشحال بابا هم پوره نهٔ پرېوزي. دوئ چې

د اخوند درویزه خلاف کومه سخته لهجه استعمال کړې ده هغه ئې د اکبر دپاره نۀ ده استعمال کړې او چې د پیر روښان په بابت ئې څۀ وئیلي دي هغه هم کافي نۀدي. نو اصل خبره دا ده چې خوشحال بابا د خپل سیاسي فکر سره سم د اخوند درویزه بابا مخالفت کړی دی. ګني په مذهبي حواله خوشحال بابا او اخوند درویزه بابا کښې ژور مماثلت موجود دی. دواړه کلک سنیان دي او د اهل سنت والجماعت له دائرې نه بهر قدم ږدول نۀ غواړي. (البته خوشحال بابا سنیت او شیعیت سره نژدې کوي. په دې به چرته بیا بحث کوو) هر دواړه د شریعت ناري وهي یعني اهل الظواهر دي مګر دواړه د تصوف د وحدة الوجود د نظرئې مثالونه هم وړاندې کوي. فرق هلته پیدا کیږي چې کله د بادشاه خلاف د خروج خبره را وړاندې شي. اخوند درویزه په هر صورت سیاسي بیعت ماتول نۀ غواړي او په دې حقله خپل دلائل لري. مګر خوشحال بابا دا بیعت ماتوي. ترڅو چې د میاں نور خبره ده نو لکه چې مخکښې عرض وشو هغه د اخوند درویزه مسلك تینګ نیولی دی. په دې وجه بابا هم دواړه غندلي دي او الزامونه ئې هم پرې لګولي دي. په خپله افضل خان د دې واقعې په باره کښې لیکي:

"مؤلف د کتاب وائي اخوند درویزه ډېر بزرګ پیر شیخ علی قدس الله سره العزیز ؤ. په هغه اوان چې دی په پښتنو کښې ؤ. علم کم ؤ. دۀ ښۀ رهنمائي دې خلقو ته وکړه. خان علیین مکان چې مبالغه په سوات نامه کښې کړې ده. د میاں په سبب ده چې دی څۀ خو په طبعیت کښې توند ؤ. په سوات کښې د مباحثۀ علمي دپاره ټوله ئې د علماوو پرې وکړه. په دا سبب ئې په سوات نامه کښې مبالغه کړې ده"(15)

خوشحال بابا د لیك په سر کښې د راوړلو شویو شعرونو په بنیاد چې اخوند درویزه او مخزن ته کومې خبرې منسوبې کړې دي. د هغو تفصیل دا دی:

(1) (مخزن) نامعقول او مجهول بیان دی.

(2) په دې کښې د سید بد وئیلي شوي دي او یزید په کښې ستائیلی شوی دی.

(3) په یزید به لعنت هغه څوك وائي چې په رفض کښې بې حده غره وي.
(4) یزید د حسینؓ په مرګ راضي نۀ ؤ او د دۀ په مرګ ئې امراګان قصاص کړل.
(5) دۀ (حضورﷺ) په اٰل به رافضي درود وائي.

که غور وکړی شي نو په دې کښې په اولنیو څلورو خبرو کښې د "مبالغې" رنګ جوت دی او تر څو چې د پینځمې خبرې تعلق دی نو دا یو بې بنیاده الزام دی چې د بابا په دفاع کښې یو دلیل هم وفا نۀ کوي. مګر دا مبالغه د اخوند درویزه په نصیب هم ده. دواړو د اعتدال لاره پرې ایښې ده. لکه چې کامل صاحب لیکي:

"د اخوند درویزه صاحب او خوشحال بابا دواړو د اعتدال نه د تجاوز مثالونه کم نۀ دي"(16).

❖❖❖

# حوالې


(1) ختټك، افضل خان، تاريخ مرصع، تصحيح او نوټونه له دوست محمد خان كامل، يونيورسټي بك ايجنسي، پېښور، سن اشاعت نۀ لري، مخ 327.

(2) خوشحال خان، ختټك، ارمغان خوشحال، سره د مقدمې له سيد رسول رسا، يونيورسټي بك ايجنسي پېښور، سن اشاعت نۀ لري. مخ 1027.

(3) درويزه، اخوند، مخزن الاسلام، سره د مقدمې له سيد تقويم الحق كاكاخېل، پښتو اكېډمي پېښور يونيورسټي، 1969ء، مخ 40.

(4) ايضاً، مخ 40- 41.

(5) ايضاً، مخ 5.

(6) خليل، همېش، خوشحال په سوات كښې، مشموله خوشحال ريويو، جلد نمبر 1، شماره نمبر 1 – 4، خوشحال ريسرچ سېل، پښتو اكېډمي پېښور يونيورسټي، 1983ء، مخ 104- 5.

(7) ختټك، پرېشان، پشتون كون؟ پښتو اكېډمي پېښور يونيورسټي، دوېم ځل، 2005ء، مخ 526.

(8) خوشحال خان، ختټك، ارمغان خوشحال، مخ 5.

(9) كېرو، سر اولف، پښتانۀ (انګرېزي) اكسفورډ يونيورسټي پرېس، كراچۍ، پينځم ځل، 1985، مخ 230 – 231.

(10) ختټك، راج ولي شاه، د پښتو ادبي تحريكونه، پښتو اكېډمي پېښور يونيورسټي، 1989ء مخ 178 – 179.

(11) ختټك، افضل خان، تاريخ مرصع ، مخ 1227.

(12) ايضاً، مخ 1230، 1231.

(13) عزيز احمد، په برصغير كښې اسلامي كلچر، (انګرېزي) مترجم ډاكټر جميل جالبي، ادارۀ ثقافت اسلاميه، لاهور، 1990ء مخ 264.

(14) بحواله مفتي محمد زاهد، موجوده پر تشدده تحريكونه، (اردو) مشموله الشريعه گوجرانواله، نومبر، دسمبر 2009ء مخ 72.

(15) ختټك، افضل خان، تاريخ مرصع، مخ 343 – 344.

(16) ايضاً، مخ 1245.